شروع کوم په نامه دَ خدائے چې بخښونکے او مهربان دے

# دَ فخر ایشیاء فخر افغان باچا خان

# او قائد جمهوریت رهبر تحریک خان عبدالولي خان

# دَ یاد ورځ او شپه

دَ جنورۍ په شلمه نېټه دَ پښتونخوا دَ ګُټ ګُټ نه علاوه، په بلوچستان، سندھ، کراچۍ او اسلام اباد کښې دَ فخر ایشیاء فخر افغان باچا خان او دَ رهبر تحریک قائد جمهوریت خان عبدالولي خان دَ یاد غونډې دَ ډېر قدر او احترام سره ونمانځلې شوې. هم دغسې غونډې دَ ملک نه بهر چې چرته چرته پښتانۀ اوسېږي، هلته هم وشوې. مرکزي غونډه دَ پښتنو په تاریخي ښار پېښور کښې دَ پېښور دَ اې این پي دَ تنظیم له خوا وشوه چې دَ مرکزي صدر اسفندیار ولي خان نه علاوه پکښې دَ پښتونخوا دَ تنظیم صدر افراسیاب خټک صاحب هم شرکت وکړو. دَ صوبائي اسمبلۍ، قامي اسمبلۍ او سېنیټ دَ غړو نه علاوه پکښې ټولو مرکزي قائدینو شرکت وکړو.

په دغه ورځ په اکثرو اخبارونو او رسالو کښې دَ باچا خان په فکر او فلسفه او دَ خان عبدالولي خان په فکري او قائدانه صلاحیتونو خصوصي نمبرونه وېستلے شوي وو.

دَ ورځې دَ سر نه تر شپې ټیلي ویژنونو او ریډیوګانو دَ دغو دواړو قابل احترام هستیو فکر و نظر او دَ هغوي دَ فلسفې دَ روح سره دَ خلقو اشنا کولو دپاره په زړۀ پورې پروګرامونه پېش کړل او دَ فکر و نظر دَ خاوندانو دَ ډېر ګڼ تعداد سره دَ مخ په مخ خبرو اترو نه علاوه ئې دَ ټیلي فون په لار دَ سوالونو او جوابونو سلسله ټوله ټوله شپه جاري وساتله. دَ نورې دنیا دَ ټیلي ویژنونو او ریډیوګانو نه علاوه دَ افغانستان په الیکټرانک میډیا هم دَ عالمانو او فاضلانو نه دَ باچا خان دَ فلسفې روح ته دَ کوزېدو دپاره خصوصي پروګرامونه په هم دغه حساب تقریباً ټوله شپه روان پاتې شو.

دَ پېښور په نشترهال کښې دَ پښتنو ځوانانو او بوډاګانو سره سره دَ خوېندو او میاندو جذبې دَ لیدو وې. دَ پښتونخوا دَ صدر سینېټر افراسیاب خټک دَ مختصر تقریر نه پس دَ پښتنو مشر اسفندیار

ولي خان دَ ځوانانو او بوډاګانو دَ بامقصده نعرو او اوازونو او چړچقو په جذباتي لهرونو کښې سټېج ته راغے او دَ جذباتي خبرو په ځائے ئې دَ خلقو توجه دَ کار او مقصد خبرو ته راوګرځوله. هغهٔ باچا خان او ولي خان ته دَ خراج عقيدت پېش کولو نه پس دَ باچا خان دَ امن او عدم تشدد په فلسفه دَ قائم پاتې کېدو اقرار وکړو او بيا ئې دَ خپل انتخابي منشور غټې خبرې او وعدې خلقو ته وريادې کړې او وې وئيل چې مونږ نهٔ يوائې دَ خپل انتخابي منشور دَ وعدو نه غافله نهٔ يو ، بلکې ډېرې مسئلې مو حل طرف ته بوتلې دي او چې کومې حل طلب دي دَ هغې زړے به هم مونږ ډېر زر پښتنو له ورکړو. انشاءالله.

هغوي ووې چې مونږ په خپل انتخابي منشور کښې دَ امن وعده کړې وه. مونږ دَ اولې ورځې نه چې دَ کوم مشکل سره مخ شو ، هغه دلته دَ هيچا نه پټ پناه نهٔ دے. په خصوصيت سره دَ سوات حالات دَ هر چا مخ ته دي چې هلته دَ دوېم فريق دَ مطالبو منلو او معاهدو کولو باوجود دَ تخريب يوه سلسله روانه وه او دَ ټول ملک وجود ته ئې خطره پېښه کړې وه خو نن دَ سوات نه ماته په فون ځنې ملګري وائي چې کهٔ څوک امن ليدل غواړي نو سوات ته دې راشي نو مونږ دَ سختو حالاتو باوجود قوم ته دَ امن سره سره دَ بجلۍ رائلټي حاصله کړه او قوم ته مو دَ متفقه اېن اېف سي اېوارډ سره سره دَ کالاباغ ډېم دَ منصوبې خوبونه دَ همېشه دپاره دفن کړي راوړل او دَ باچا خان او ولي خان دَ آئنده برسۍ دَ ياد پورې به پښتانهٔ دَ پښتونخوا دَ نوم زېرے هم واوري. انشاءالله

اسفنديار ولي خان په مرکزي سطح دَ موجوده صورت حال ذکر وکړو او وې وئيل چې په آئين کښې دَ ټولو ادارو اختيارات په واضح ډول موجود دي او خبردارے ئې ورکړو چې دَ ادارو ترمنځه ټکراؤ به دَ ملک دپاره ډېر خطرناک وي. هغهٔ ووې چې کهٔ دَ يو پُرامن او مترقي افغانستان نه بغېر دَ پاکستان ترقي ممکن نهٔ ده نو دَ يو پُرامن او مترقي پاکستان نه بغېر هم په افغانستان کښې امن او ترقي نهٔ شي راتلې او دَ دې مطلب هم دا دے چې دَ دې دواړو ملکونو امن او ترقي بېخي دَ يو بل سره تړلي شرطونه دي چې دَ يو نه بل او دَ بل نه بغېر بل نهٔ امن طرف ته تلے شي او نهٔ ترقي کولے شي. هم دغه مقصدونه دي چې باچا خان او ولي خان قريب قريب يوه پېړۍ دَ هغې دپاره کار او عمل کړے ؤ. بايد چې هم دَ دغسې نقطهٔ نظر سره په اخلاص او روغ زړهٔ کار او عمل وکړے شي چې دا په اصل کښې دَ دې خاورې دَ موجوده خلقو سره سره دَ هغوي دَ راتلونکو نسلونو هم په مونږ يو داسې قرض دے چې دَ ورکولو دپاره ئې پړانه زمونږ په غاړه پرته ده.